مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نعمان دوست

۲۰۲۶/۰۴/۱۰

# یوه پېښه او دوه عنوانه

خبر لیکنه پوره دقت غواړي. بویه چې هر اړخ یې وسنجول شي.


ځکه، بې سنجشه جملې لیکل، له یوې پېښې ناسم تعبیر وړاندې کوي او کله کله بیا دا نا سم تعبیر ویره پیدا کوي.
تاسې لاندې سکرین شاټونو کې دوه سرلیکونه وینئ. دواړه د یوې پېښې دي؛ خو د طلوع ویرونکی دی او دا ویره هم غیر واقعي ده.

کله چې د طلوع د خبر عنوان ځوک لولي، داسې فکر کوي چې خامخا به دې شمېره کې نیمایي او یا له نیمایي زیات مړه شامل وي؛ خو چې متن ولولې نو ویره ختمه شي؛ ځکه فقط یو کس مړ او نور ټپیان دي.

اول خو په کار دی چې مړی له ټپیانو سره جمع نسي؛ که بیا هم جمع کېږي، نو خدای مکړه، هغه وخت دې جمعه سي او حاصل د جمعې دې (مرګ ژوبله) وګڼل شي چې د دواړو په شمېره کې چندان فرق نه وي.

د یوه مړي لپاره په ډېرو ټپیانو د مړو ګومان پیدا کول، بې انصافي او غیر مسلکي عمل دی.






افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ